# د افغـــانستان اســـلامي امـــارت

## د ارشـــاد، حج او اوقـــافو وزارت

### د مساجدو د ارشاد او انسجام رياست

د جمعې ورځې د خطابت موضوع او
ليکلی تقرير او بيان چې د هيواد دمرکز او ولاياتو
ټولو خطيبانو ته په دواړو ملي ژبو (پښتو او دري) کې ليږل کيږي.

---

۵/ رجب المرجب/۱۴۴۴هـ ق موافق به ۷/ دلو/۱۴۰۱هـ ش

**ساده ژوند اختيارول او د خپل هيواد کورني توليدات او محصولات استعمالول**

الحمد لله الذى احل للعباد الطيبات لما ينفعهم فى دينهم ودنياهم وحرم عليهم الخبائث لما فيها من المفاســد فى العاجل والآجل وفى دنياهم وآخرتهم والصلاة والسلام على افضل الورى محمدبن عبدالله وعلى آله واصحابه المتأدبين بآدابه، اما بعد:

من طريق سعى مى آرم بجا    ليس للإنسان إلا ماسعى

دامن مقصود اگر آرم بکف    ازغم واندوه ماتم برطرف

ورنشد از جهد کارمن تمام    من دران معذور باشم وسلام

**ساده ژوند اختيارل:**

ســاده ژوند اختيارول غوره صــفت دى ، مســلمان لره ښـايي چې په ســاده ژوند باندې ځان عادت کړي، د دنيا زيب او زينت زائليدونکى دى، ســاده ژوند تيرول د رســول الله صــلى الله عليه وســلم او د هغه داصــحابو کرامو رضــوان الله تعالى عليهم اجمعين خوى او خصلت ؤ.

کله چې ر سول الله صلى الله عليه و سلم معاذ بن جبل رضي الله عنه يمن ته ليږلو ورته يې دا سې وفرمايل: عَنْ مُعَاذِ بْنِ جَبَلٍ: أَنَّ رَسُولَ اللهِ - صلى الله عليه وسلم - لَمَّا بَعَثَ بِهِ إِلَى الْيَمَنِ قَالَ: إِيَّاكَ وَالتَّنَعُّمَ ؛ فَإِنَّ عِبَادَ اللهِ لَيْسُوا بِالْمُتَنَعِّمِينَ) مسند احمد

ترجمه:- د معاذ بن جبل رضي الله عنه څخه روايت دى هغه فرمايي چې زه کله ر سول الله صلى الله عليه و سلم يمن ته ليږلم داسې يې راته وفرمايل: د نعمتونو په تحصيل کې د مبالغه کولو څخه ځان وساته، بيشکه دالله تعالى بندګان نه وي مبالغه کوونکي په تحصيل د نعمتونو کې.

په نعمتونو باندې ځان عادت کول او په کې زياته دلچسـپي اخيسـتل انسـان د مختلفو امتحاناتو سره مخ کوي، ځوک چې په نعمتونو او دنيايي ښـايسـت باندې يو ځل اموخته شـو بيا د ازميښـتونو او تکاليفو مقابله نشيـ کولای.ځوک چې يو ځل په دنيوي اسبابو اموخته شو بيا د فقر ، ګرمۍ، يخنۍ ، ولږې او تندې سره دمقابلې توان نلري. که چيرې مونږ دصحابه کرامو

ژوند ته نظر واچوو وينو چې هغوی ډير عادي خوراک، عادي پوشاک درلود همغه وو چې هغوی د هرډول سختيو مقابله کوله او په ولړه، تنده باندې يې صبر کولو.

کله چې صـــحابه کرامو په غزوه خندق کې خندق کيندلو صـــحابه کرامو د ولږې له امله په خيټو پورې کاڼي تړلي وو. د تبوک غزوه په ســختـه ګرمۍ کې واقع شــوی وه منافقين د ګرمۍ له امله له جهاد څخه په شــا شــول، همدا مؤمنان ؤ چې ګرمي او يخني ورته مهمه نه وه بلکې دالله په لار کې سپيڅلی جهاد يې يواځنی هدف ؤ.

الله تعالی ددغه ډول خلکو ( منافقانو) څخه يادونه کوي او فرمايې: (فَرِحَ الْمُخَلَّفُونَ بِمَقْعَدِهِمْ خِلاَفَ رَسُـولِ اللّهِ وَكَرِهُواْ أَن يُجَاهِدُواْ بِأَمْوَالِهِمْ وَأَنفُسِهِمْ فِي سَبِيلِ اللّهِ وَقَالُواْ لاَ تَنفِرُواْ فِي الْحَرِّ قُلْ نَارُ جَهَنَّمَ أَشَدُّ حَرًّا لَّوْ كَانُوا يَفْقَهُونَ] التوبه: (٨١)

ترجمه:- وروسته پاتې کړی شوي خلک له رسول الله - صلی الله عليه و سلم-نه شاته خپلو کيناستو باندې خوشحاله شو او دوی بد وګڼل داچې خپلو مالونو او ځانونو سره دالله تعالی په لاره کې جهاد وکړي او وه يې ويل تاســـو په ګرمۍ کې ( دی غزا ته) مه وځئ ته ووايه بيشکه د جهنم اور د ګرمۍ په لحاظ ډير سخت دی که چيرې دوی پوهيدلی.

په نعمتونو او د اسايش په اسبابو ځان عادت کول د هغه چا کار دی چې په زړه کې يې د آخرت طمع کمزوری وي. په قرآني کريم کې هغو کســانو ته چې د نعمتونو په لذت کې مســتغرق وي (مترفين) ويل شــوي دي او په قراني آيتونو کې د مترفينو مذمت بيان شوی دی. الله تعالی فرمايلي دي: (لا تَرْكُضُوا وَارْجِعُوا إِلَى مَا أُتْرِفْتُمْ فِيهِ وَمَسَاكِنِكُمْ لَعَلَّكُمْ تُسْأَلُونَ).الانبياء: (١٣) ترجمه:- تاسو مه تښتئ او واپس لاړ شې هغو نعمتونو ته چې تاسو ته په هغو کې خوشحالي درکړی شوی وه او خپلو کورونو ته ددې لپاره چې له تاسو نه پوښتنه وکړی شي.

په يو بل آيت کې الله تعالی فرمايلي دي: (حَتَّى إِذَا أَخَذْنَا مُتْرَفِيهِم بِالْعَذَابِ إِذَا هُمْ يَجْأَرُونَ).المؤمنون: (٦۴) ترجمه: ترهغه پورې چې کله مونږ ددوی متکبره مالداران په عذاب سره ونيسو ( نو) ناڅاپه دوی ( بيا) فرياد کوي.

په يو آيت کريمه کې الله تعالی فرمايلي دي: { وَذَرْنِي وَالْمُكَذِّبِينَ أُولِي النَّعْمَةِ وَمَهِّلْهُمْ قَلِيلا . إِنَّ لَدَيْنَا أَنْكَالا وَجَحِيمًا . وَطَعَامًا ذَا غُصَّةٍ وَعَذَابًا أَلِيمًا }المزمل: ١١-١٣

ترجمه:- او پريږده ما او دروغ ګڼونکي چې نعمت والا دي او دوی ته لږ مهلت ورکړه بيشـــکه زمونږ سره درانه ځنځيرونه ( زولنې) او سوځونکی اور دی او داسې طعام دی چې په مرۍ کې نښتونکی دی او ډير دردوونکی عذاب دی.

ددنيايي اســبابو څخه لذتونه اخيســتل او په دنيوي ســهولتونو کې دومره مســتغرق کيدل چې آخرت در څخه هيرشي ناوړه عاقبت لري.

ددنيوي سـهولتونو څخه د ضرورت په اندازه اسـتفاده په کارده او په دنيوي خوندونو ځان عادت کول په کار نه دي. الله تعالی فرمايلي دي: (زُيِّنَ لِلنَّاسِ حُبُّ الشَّـهَوَاتِ مِنَ النِّسَاءِ وَالْبَنِينَ وَالْقَنَاطِيرِ الْمُقَنْطَرَةِ مِنَ الذَّهَبِ وَالْفِضَّـةِ وَالْخَيْلِ الْمُسَوَّمَةِ وَالأَنْعَامِ وَالْحَرْثِ ذَلِكَ مَتَاعُ الْحَيَاةِ الدُّنْيَا وَاللَّهُ عِنْدَهُ حُسْنُ الْمَآبِ) آل عمران: (١۴)

ترجمه:- ښایسته کړې شوې ده خلکو ته مینه د مرغوبو خوندورو شیانو چې ښځې دي او زامن دي او راجمع کړې شوې ډیر مالونه دي له سرو زرو نه او سپینو زرو نه او آسونو نه چې نښه دار کړای شوي دي او له څارویو نه او فصل نه دا د دنیایې ژوند سامان دی او له الله سره د ورګرځیدلو ښه ځای دی.

په یو بل مبارک آیت کې الله جل جلاله فرمایلي دي:(فَخَلَفَ مِن بَعْدِهِمْ خَلْفٌ أَضَاعُوا الصَّلَاةَ وَاتَّبَعُوا الشَّهَوَاتِ فَسَوْفَ يَلْقَوْنَ غَيًّا) مریم: (۵۹) ترجمه: نو ددې وروسته داسې بدځای ناستي پیدا شول چې لمونځونه یې ضائع کړل او دشهوتونو پیروي یې وکړه نو ژر به دوی د خپلې بدۍ له انجام سره ملاقات وکړي.

د شهوات نه مراد دنیوي خوندونه او لذتونه مراددي چې انسان دلمانځه او اوداسه نه غافله کړي . علامه قرطبي رح د حضرت علي رضي الله عنه قول نقل کړی دی چې ددی نه هر هغه شی مراددی لکه بنګلې، کوټې ، سورلۍ په کومو چې د خلکو نظرونه لګیږي او داسې جامې چې په عامو خلکو کې امتیازي حیثیت ولري دا ټول په ( واتبعوا الشهوات) کې داخل دي.

په نبوي آحادیثو کې د ساده ژوند او فقر صفت شوی دي او ځینې وخت غنا د کبر او لویی سبب ګرځي. په حدیث شریف کې راځي:(ذَكر أصحابُ رسول الله -صلى الله عليه وسلم- يوما عنده الدُّنيا ، فقال رسول الله -صلى الله عليه وسلم- : ألا تسمعون ، ألا تسمعون ؟ إن البَذَاذَةَ من الإِيمان، إن البذاذة من الإيمان - يعني التَّقَحُّلَ).أخرجه أبو داود.

ترجمه:- یوه ورځ صحابه کرامو د ر سول الله صلی الله علیه و سلم په مخ کې ددنیا ذکر وکړ . پیغمبرعلیه السلام وفرمایل: آیا تاسو نه اورئ؟ آیا تاسو نه اورئ .بیشکه ساده ژوند د ایمان برخه ده.

صحابه کرامو ساده ژوند درلود او د زیاتو نعمتونو او آسانیو پسې نه ګرځیدل. په حدیث شریف کې راځي:(عَنْ أَبِي هُرَيْرَةَ قَالَ رَأَيْتُ سَبْعِينَ مِنْ أَصْحَابِ الصُّفَّةِ مَا مِنْهُمْ رَجُلٌ عَلَيْهِ رِدَاءٌ إِمَّا إِزَارٌ وَإِمَّا كِسَاءٌ قَدْ رَبَطُوا فِي أَعْنَاقِهِمْ فَمِنْهَا مَا يَبْلُغُ نِصْفَ السَّاقَيْنِ وَمِنْهَا مَا يَبْلُغُ الْكَعْبَيْنِ فَيَجْمَعُهُ بِيَدِهِ كَرَاهِيَةَ أَنْ تُرَى عَوْرَتُهُ). صحيح البخاري

ترجمه:- د ابو هریره رضي الله عنه نه روایت دی هغه فرمایي چې ما د اصحاب صفه وو رضي الله عنهم نه داسې اویا صحابه لیدلي دي چې د هغوی سره پوره جامې هم نه وې چاسره به د اغوستلو د پاره صرف څادر ؤ او له چا سره به صرف لنګ ؤ ، هغه به یې هم خپلې مرۍ کې تړلی وو چې د چا به نیمایې پنډۍ پورې رسیدلی وو او د چا ګیټو پورې او کونجونه دڅادر به یې په لاسونو کې مضبوط نیولي وو چې زمونږ عورت ښکاره نشي.

په یو بل حدیث شریف کې راځي: (عن أبي عبد الله جابر بن عبد الله رضي الله عنهما ، قَالَ : بَعَثَنَا رسول الله - صلى الله عليه وسلم - ، وَأَمَّرَ عَلَيْنَا أَبَا عُبَيْدَةَ - رضي الله عنه - ، نَتَلَقَّى عِيراً لِقُرَيْشٍ ، وَزَوَّدَنَا جِرَاباً مِنْ تَمْرٍ لَمْ يَجِدْ لَنَا غَيْرَهُ ، فَكَانَ أَبُو عُبَيدَةَ يُعْطِينَا تَمْرَةً تَمْرَةً ، فَقيلَ : كَيْفَ كُنْتُمْ تَصْنَعُونَ بِهَا ؟ قَالَ : نَمَصُّهَا كَمَا يَمَصُّ الصَّبي ، ثُمَّ نَشْرَبُ عَلَيْهَا مِنَ الْمَاءِ ، فَتَكْفِينَا يَوْمَنَا إِلَى اللَّيْلِ ، وَكُنَّا نَضْرِبُ بِعِصِيِّنَا الخَبَطَ ، ثُمَّ نَبُلُّهُ بِالماءِ فَنَأْكُلُهُ ). رواه مسلم

ترجمه:- د ابو عبدالله جابربن عبدالله رضي الله عنه څخه روایت دی هغه فرمايي: چې ابو عبیده رضي الله عنه په مشـــۍ کې مونږ رسـول الله صـلی الله علیه وسـلم د قریشـو دیوې قافلې ملاقات لپاره ناڅاپه روان کړو ، نو دلارې د ګذارۍ دخوراک لپاره یې دخرما د یوې خلتې نه بغیر هیڅ رانکړل، ابوعبیده رضي الله عنه به مونږ ته دخوراک لپاره یوه خرما راکوله. چا پو ښتنه وکړه چې په یوه خرما باندې تاسـو څنګه ګذاره کوله؟ نو هغه ورته وویل: چې د ماشـومانو په شـان به مونږ خرما زبیښـلې او د هغې دپاسه به مو پری اوبه څکلی چې د شپې پوری به پری ګذاره کیدله، دی سره سره به مونږ په خپلو امساګانو د ونې پاڼې وهلی او اوبو کې به لمدې کړی او بیا به مو خوړلی.

د حضرت عمر رضي الله عنه په زمانه کې حضرت ابو عبیده بن جراح د " شام " والی جوړ سو ، په دې وجه چې د شام اکثره علاقه ده فتح کړې وه . په دې وخت کې شام ډېره غټه علاقه وه چې په هغه کي نن سبا څلور ملکونه دي ، يعني شام ، اردن ، فلسطین او لبنان او په هغه وخت کي دا څلور سره یو ځای د اسلامی خلافت یو ولایت وو او حضرت ابو عبیده د هغه والی وو او د شام ولایت ډېر زرخېزه وو ، مال او دولت په کې زیات وو ، او د روم ښائسته علاقه وه .

حضرت عمر رضي الله عنه یو ځل د شام لیدلو دپاره د شام ته ورغی ،کله چې شام ته ورسېدی ، نو حضرت ابو عبیده ته یې وويل: زما زړه دا غواړي چي زه ستا کور ووینم چي په دې زرخېزه علاقه کي تا څنګه کور د ځان دپاره برابر کړی دی . حضرت عمر رضي الله عنه په ذهن کي دا وه چي " ابو عبیده " خو د ډېر آباد ولایت والی دی او دلته مال او دولت زیات دی ، چي زه د ده کور ووینم چي ده ځان ته په کور کي څه جمع کړي دي. حضـــرت ابو عبیده رضي الله عنه په جواب کي ورته وویل : ای امیر المؤمنینه ! ته زما کور څه کوې ؟ که چیري ته زما کور ووینې ، نو د ســـترګو څخه د اوښـــکو تویولو بغیر به نور هیڅ و نه کړې. حضرت عمر رضي الله عنه ډېر اصرار وکړ او وه یې ویل: زه ضرور ستاکور وینم . نو حضرت ابو عبیده حضرت عمر - ترلاس و نیوی ، روان یې کړ کله چې د ښار ابادي ختمه شوه او د ښار رڼاګاني ټولي ختمي شوې ، نو حضرت عمر رضي الله عنه ورته وویل: ته ما چیري بیا یې ؟ حضرت ابو عبیده رضي الله عنه ورته په ځواب کې وویل: بس اوس زما کور نږدې دئ . چنانچه پوره " دمشق " ښار چي د دنیا په مال او اسباب سره او په رڼا او بریښنا سره ځلېده ټول تېر سو ، نو آخر یې ځنګل ته ورســـولو .په ځنګل کې د خرما د پاڼو څخه جوړه په یو کوډلۍ ته یې و درولو او ورته یې وویل: ای امیر المؤمنینه ! دغه زما کور دی او زه په دغه کور کي اوسېږم . حضرت عمر رضي الله عنه چي کله په دې کور کي څلور طرفته نظر واچولو او وه یې کتل، نو په هغه کور کي د یو مصلې نه بغیر په بل هیڅ شـی باندې یې نظر ونه لګید. د هغه څخه یې پوښـتنه وکړه ای ابو عبیده! ته چي په دې کور کي اوسېږې ، په دې کور کي ساز او سامان او لو ښي او د خوراک، څښاک او بیده کیدلو خو هیڅ انتظام نشـته ، نو ته دلته څنګه اوسـېږې؟ هغه په جواب کي ورته وايي : اې امیر المؤمنینه ! الحمد لله زما ټول د ضرورت سـامان په دې کور کي میسر دی ،دا مصلی ده پر دې لمونځ کوم او د شپې پر دې بیده کیږم. او بیا یې لاس د کوډلې په سرکي دکجورو په پاڼوکې دننه کړ او د هغه ځایه څخه یې یوه پیاله را وویستله چي مخکي نه معلومېدله او د حضرت عمر رضي الله عنه مخې ته یې کیښوده او ورته یې وویل: ای امیر المؤمنینه ! دا زما لوښي دي . حضرت فاروق اعظم ﷺ چي کله دې لوښي ته وکتل ، نو وه یې لیدل چې په هغه لو ښي کې اوبه دي او په اوبو کې یو څو مړې لمدې پرتې دي، نو حضرت ابو عبیده ورته وویل: ای امیر المؤمنینه ! زه شپه او ورځ د حکومت په کارو کې مصروفه یم او د خوراکې او د نورو ضروریاتو پوره کولو لپاره وخت نلرم .

زنانه زما دپاره دوې درې ډوډۍ پر یو وخت پخې کړي ، نو زه یې دلته کېږدم ، چي کله هغه وچې شي بیا یې زه په دې اوبو کې لمدوم او چې د شپې راشم هغه خورم، دغه مي د کور او د ضرورت سامان او نفقه ده . حضرت فاروق اعظم ﷺ چي کله دا حالت و لیده ، نو په سترګو کې یې اوښکي راغلې . حضرت ابو عبیده رضي الله عنه ورته وویل : ای امیر المؤمنینه ! ما خو مخکې هم درته ویلي ؤ ، چي زما د کور لیدلو وروسته به تا ته د اوښکو تویولو څخه ماسوای نور هیڅ په لاس در نه شي.

د خپل هیواد کورني تولیدات او محصولات استعمالول.

نن صبا په نړۍ کې غلامي په دوه ډوله ده : سیاسي غلامي، اقتصادي غلامي او آزادي هم په دوه ډوله ده سیاسي آزادي او اقتصادي آزادي.

سیاسي غلامي دیته ویل کیږي چې کوچني او واړه هیوادونه د لویو او زبرځواکو هیوادونو غلامان وي دا په دې معنا چې په تابع او غلامو هیوادونو کې د زعیم ټاکنه د زبرځواکو او لویو هیوادونو له لوری کیږي او هغه څوک د دولت مشر ټاکل کیږي چې د بهایه او لویو هیوادونو زیات غلام وي چې په دې طریقې سره ددولت سیاسي حالت تل د لویو هیوادونو په واک کې وي.

همدا راز هغه هیوادونه او ولسونه چې اقتصادي حریت ونلري تل دبهایه او سرمایه دارو دولتونو غلامان وي.

داچې -لله الحمد- نن مونږ سیاسي آزادي لرو مونږ ته لازم ده چې اقتصادي آزادي هم ولرو او په خپلو پښو ودریږو. اقتصادي آزادي او حریت هغه وخت ممکن دی چې مونږ تولید او صنعت ولرو او په ځان بسیا شو او خپل تولیدات او محصولات مو هغه وخت په پښو درولی شي چې مونږ د خپلو تولیداتو او محصولاتو څخه هر اړخیز ملاتړ وکړو او د نورو هیوادونو په تولیداتو او محصولاتو تکیه کمه کړو. په دې سره به مونږ وکړای شو چې د نړۍ سره سیال شو او په خپلو پښو ودریږو چې بالآخره مونږ به اقتصادي حریت او آزادي هم ولرو.

د هیواد او وطن آبادول د نظام او ولس شریک مسئولیت دی.داد قرآن کریم ددې څخه معلومیږي. الله جل جلاله فرمایلي دي:(هُوَ أَنشَأَكُم مِّنَ الْأَرْضِ وَاسْتَعْمَرَكُمْ فِيهَا فَاسْتَغْفِرُوهُ ثُمَّ تُوبُوا إِلَيْهِ إِنَّ رَبِّي قَرِيبٌ مُّجِيبٌ).هود: ٦١ ترجمه: هم هغه تاسو له ځمکې نه پیداکړي یې تاسو ددې آبادوونکي یاست، نو تاسو له ده نه مغفرت وغواړئ بیا تاسو ده ته رجوع وکړئ بیشکه زما رب ډیر نږدی دی ددعا قبلوونکی دی.

د خپل وطن او هیواد سره مینه او محبت فطري امر دی چې د خپل هیواد سره په مینه او محبت کې به مونږ هغه وخت ریښتیني یو چې د خپل هیواد د تقویت او قوت لپاره کار وکړو او هیواد مو هغه وخت تقویه کیږي چې دخپل هیواد تولیدات او محصولات راونیسو او ورڅخه استفاده وکړو .

کله چې ر سول الله د مکې مکرمې څخه مدینې منورې ته هجرت کولو دا سې یې وفرمایل: (وَاللَّهِ إِنَّكِ ، لَخَيْرُ أَرْضِ اللهِ ، وَأَحَبُّ أَرْضِ اللهِ إِلَيَّ ، وَاللَّهِ لَوْلاَ أَنِّي أُخْرِجْتُ مِنْكِ ، مَا خَرَجْتُ).الترمذی، ابن ماجة

ترجمه:- قسم په الله چې ته دالله تعالی غوره څمکه یې او ته دالله تعالی په څمکو کې ماته ډېره محبوبه یې ، قسم په الله چې که چیرې زه نه وم ویستل شوی له تا څخه هیڅکله به نه وم وتلی .

که چیرې مونږ د هیواد وطني تولیدات او محصـولات وکاره وو او ورڅخه حمایت وکړو دا په حقیقت دخپل هیواد څخه حمایت او ملاتړ دی، ترڅو په آینده کې روښانه ، پرمختللی او په ځان بسیا هیواد ولرو.

که چیرې مونږ او تاسو د داخلي تولیداتو او محصولاتو څخه استفاده ونکړو په نتیجه کې به د هیواد کارخانې او فابریکې له کاره ولویږي، کاریگر به بیکاره شي چې دا زمونږ د هیواد او ولس په زیان دی؛ بالعکس که چیرې مونږ د وطني تولیداتو او محصولاتو څخه استفاده وکړو ، وبه وینو چې کارخانې او فابریکې به فعاله وي ، خلک به په کار بوخت وي او ددولت بودیجې ته به د پام وړ مالیه راځي چې دا بهیر د هیواد د آبادۍ او خیرازۍ لپاره اړین گام دی.
همدا راز د اسـلام مقدس دین یواځې په عبادت کې لمانځه، روژې، حج او زکات کې نه خلاصـه کیږي ؛بلکې اسـلام د بشرـ د ژوند لپاره کامل نظام دی او دخپلو پیروانو سیاسي، ټولنیزې او اقتصادي لارې یې تنظیم کړي دي.
ا سلامي اقتصادي نظام خلک کار او فعالیت ته تشویقوي او رابولي او هغوی یې د کسالت او بې کارۍ څخه منع کړي دي او هغه منفعت چې ترلاســه کوي باید دمشرــوع لارې څخه وي، لکه چې الله تعالی خپل بندگان کار ، تولید او دهغې څخه د معقولې استفادې په اخیستلو امر کړی دی:{ فَإِذَا قُضِيَتِ الصَّلَاةُ فَانتَشِرُوا فِي الْأَرْضِ وَابْتَغُوا مِن فَضْلِ اللَّهِ وَاذْكُرُوا اللَّهَ كَثِيراً لَّعَلَّكُمْ تُفْلِحُونَ}.الجمعة: (١٠)
ترجمه:- کله چې خلاص شو لمونځ( دجمعې) پس خواره شئ په ځمکه کې او ولټوئ د الله تعالی مهرباني( مال) او یادکړئ الله تعالی زیات ددې لپاره چې تاسې کامیاب شئ.

که چیرې مونږ اسلامي تاریخ مطالعه کړو درک به کړو چې الهي پیغمبرانو د تولیداتو او صنعت په خاطر یې کارونه کړي دي او خپل ملت ته یې کارکولو، فعالیت او تولیداتو ته یې تشویق کړي دي؛ لکه چې قرآن کریم د کار او تولید په برخه کې د حضرت داوود علیه السلام داسې یادونه کوي:{ وَأَلَنَّا لَهُ الْحَدِيدَ (١٠) أَنِ اعْمَلْ سَابِغَاتٍ وَقَدِّرْ فِي السَّرْدِ وَاعْمَلُوا صَالِحًا إِنِّي بِمَا تَعْمَلُونَ بَصِيرٌ } السبآ : (١٠-١١)

ترجمه:- مونږ دده (داوود علیه السلام) لپاره اوسپنه بسته کړی وه ( او ورته موویلي ؤ) چې ته پوره ارتې زغرې جوړوه د(کړیو) په اوبدلو (بوډلو) کې اندازه کوه او تاسو چې نیک عمل کوئ؛ بیشکه زه هغه کارونو لره چې تاسو یې کوی ښه لیدونکی یم .